سرلوخ مرادزی

۲۰۲۲ / ۰۷ / ۲۵

ځواني او مستي

جینۍ مستۍ کې چې په لاره غورځي
ته وې، سپوږمۍ له خپل مداره غورځي
ښکلا کې، پورته د اسمان پرېښتې
پر ځمکه پښو ته يې بېواره غورځي
د لمر شغلې يې تر اغيز تتې شي
هره شغله چې له رخساره غورځي
لمبې له شونډو يې پاڅېږي هسې
لکه سپرغۍ چې له انګاره غورځي
ځوانۍ نېشه تر ښګو کمه نه ده
ځکه نېشه کې له اختياره غورځي
د پېښتني نجونو ښکلا ته، حورې
نرخو و نوا کې له بازاره غورځي
د وخت له نبض سره قدم چې نه ږدي
ذاهد به خود له اعتباره غورځي
ځواني د سترګو په رپ هسې درومي
لکه چې لمر د غره له ناړه غورځي
د ۲۰۲۲ کال د جولای ۲۴ مه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ